# نیم رېښتیا




اکمل اعلام



نیم رېښتیا

شعري مجموعه

اکمل اعلام

۱۴۰۰

Ketabton.com

# Neem Rekhtya

## Pashto Poetry

ISBN 978-9936-1-0628-4
9 789936 106284

**Akmal Elam**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیم رښتیا



اکمل اعلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیم رښتیا

## د شعرونو مجموعه

شاعر: **اکمل اعلام**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ځانګړنې:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | نیم رښتیا |
| شاعر | : | اکمل اعلام |
| کاپي رایټ ISBN | : | 978-9936-1-0628-4 |
| ORCID | : | 0000-0002-2542-9554 |
| د پښتۍ انځورګر | : | هیله ومان |
| نشر کال | : | 2022 |
| چاپ وار | : | دویم چاپ |

ISBN 978-9936-1-0628-4

9 789936 106284


**- د دې کتاب ټول مادي او معنوي حقوق د لیکوال سره خوندي دي -**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اهــدا

چې ما ولــولي او حس کـــړي
چې یــــې زه د زړه نــدا یــم
زه د خپـــــل عــصر شباب تــه
علیٰ عــین و راس اهــدا یــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

هـنر او سـاینس زمـونږ په جامعه کې دوه جدا رشتې دي. څـوک چې د هنرونو خوا ته ځي نو ساینس ترې لرې وي او که طب، انجنیري یاکـمپیوټـر وایـي نـو د هـنرونـو نـه فـاصـله اخـلي. یـو څه گـونـا پـکې د نـصابـونـو هم ده. خو زما په نظر ډیره پړه په خپله په شخص ده.

الله پاک چې انسان پیدا کوي نو طبیعتاً جـمالیاتي حس ورکوي. هنر د دغه جمالیاتي حس تظاهر دی. څوک یې په انځورگری ښـایي، څوک په ترنم او څوک په نظم و نثر. د فطرت دغه برخه ځیني خلک د نورو علومو شاتـه پـټه کـړي ولـې دا پـټیدل ورکـیدل نـه دي. دا حـس د انـسان پـه فـطرت کـې دی او چې هر کله ورته زمینه مساعده شي، ظهور کوي.

دا ظـهور کـه بـله لاره پـیدا نـه کـړي نـو کـم تـر کـمه د لـیدلـو یـا د اوریـدلـو پـه شـکل پـیدا کـیږي. هـغه کـه یـو ښـه انـځور وي، ښـه نـظم وي، ښـه طـرز وي او کـه ښـه نـثر. د ښـه تـعریـف بـیا د هـمدغـه جـمالـیاتـي حـس نـه پـیدا کـیږي چـې مـونـږ ورته ذوق وایو.

دا حـس فـطرتـاً پـه مـا کـې هـم شـته. زه د پـخوا راهـیسې لـیکل کـوم خـو چـون دمـعلومـاتـي ټـکنالـوژۍ او ورسـره پـه څـنگ کـې د سـاختمانـي انـجنییرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـو زده کـوونـکی یـم او تـقریـبا هـمیشه مـې پـه مـعلومـاتـي ټـکنالـوژۍ کـې کـار او تجارت کـړی نـو تر اوسه نه یم توانیدلـی چې کوم څـه د کاغذ پر مخ راوړم، ولې په انټرنټ کې مې لیکل خپاره شوي. نـظم مـې خـوښـیږي. هـم یـې اورم، هـم یـې لـولـم او هـم یې د لیکلو هـڅه کوم. دا وړه مجموعه چې یو څو نظمونه او یو څو غزلې مـې پـکې راټـول کـړي د لـوسـتونـکو درونـد حـضور تـه وړانـدې کـوم. نـقد، اصـلاح او نظریات مو د سر په سترګو.

په درنښت

اکمل اعلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ورکو لارو کې پېلوزی

**نجیب منلی**

خوبونه لکه شعر او سهوه، د شعور، قبل الشعور، تحت الشعور او لا شعور تر منځ پلونه دي.

استاد چې په صنف کې د فروید په نظریه کې د شخصیت له بېلابېلو پوړونو غږېده، زما په ذهن کې به د پخسو کلا تداعي کېده. د کلا پسخې یوه د بلې د پاسه جوړېږي، هره یوه له بلې بېله ښکاري خو یوه پرته له بلې خپل شتون او جوړښت نه شي ساتلای. وخت، زلزلې او موسمونه د پخسو په دېوال کې چاودونه جوړوي، اکثره د دېواله له بېخه تر سره رسي، له پاسه د باران اوبه لاندې راپرېږدي او له ښکیه، د ویالې زیم، پورته بیایي.

اوس چې کله ځان سره چورت وهم دغه تابلو راته بل ډول ښکاري. حواس، ادراک، شعور، قبل الشعور، تحت الشعور، لاشعور او یو څو ورته نورې بلاوې د تورتمونو په د نیا کې، د لړو پوښلي ورک سمندر منځ کې جلا جلا ټاپوگان دي. نه د ټاپوگانو څنډې ښکاري او نه یې یو تر بله فاصلې د اټکل وړ دي. خو د دې ټولو ټاپوگانو تر منځ، په لړو کې پټ پلونه شته چې هیلې، اندېښنې، فکرونه، یادونه، تصورات، ترهې، شکونه خوبونه او الهامات پرې له یوه ټاپو بل ته لار کوي، خو نه په خپله پوهېږي او نه بل څوک یا بل څه دا موندلای شي چې دغه لېږد پر کوم پله، څنگه او کله وشو؟

کله د شعر په بڼه، کله د نیم نیمگړي خوب په شکل، کله د ناغوښتلو کړنو، سهوو او اشتباهاتو په جامه کې، کله د الهام په څېره او کله د نامالومې اندیښنې په پرده کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نورو جزيرو محتويات د شعور تر جزيرې راځي او دلته «زه» - هغه «زه» چې دغه د تورتمونو په دنيا کې لړو پوښلی ورک سمندر يې يوه برخه ده – له دغو محتوياتو سره مخ کېږي.

دلته نه د فرويد او د هغه د پلويانو-مخالفانو-د لارې د ملګرو پر نظرياتو د بحث له پاره ځای شته او نه زه دومره پوهه لرم چې په جزيياتو يې خبرې وکړم خو د خپلې موضوع د روښانولو په پار يې يو دوه ټکي يادوم.

«زه»، د انسان په ارواييي جوړښت کې، هغه برخه ده چې انسان په کې خپل شتون هم تثبيتوي او له دنيا سره په کې خپلې اړيکې هم تنظيموي. دا «زه» له ټولنيزو او مادي واقعيتونو سره مخ کېږي او دنيا پرې تنګېږي. د دې له پاره چې «زه» خپلې غوښتنې هم پوره کړي او له چاپېريال سره د تضاد موارد هم محدود کړي، ځان له شرايطو سره عياروي، له خپلو يو شمېر غوښتنو په شا کېږي، د چاپېريال له خوا ځينې «تېرې» زغمي او هغه څه چې (د غوښتنو د ترکولو په نتيجه کې د محروميت احساس او د بهرنيو تېريو پر وړاندې د مقاومت او بالاخره د بغاوت ايجاب) ورته دردوونکي وي، د شعور له جزيرې وباسي (اروا پوهان وايي «په شا يې تمبوي») او نورو جزيرو (تحت الشعور او لاشعور) ته يې لېږدوي او هېروي يې. «زه» تر يو حده په دې چاره کې بريالی کېږي او د تعادل تر حده ځان عياروي خو په دغه جريان کې ټول دردوونکي محروميتونه او محدوديتونه په يو ډول نه يو ډول د ژوند بهير ګډوډوي چې په نهايت کې ترې رواني ستونزې جوړېږي. کله کله، چې عياروونکې اراده کمزورې شي (د خوب پر مهال، د احساساتو د غلبې پر مهال يا د ځينو کيمياوي توکو د استعمال پر مهال) هغه «تمبول شوي» يا په بل عبارت لېږدول شوي موارد بېرته له لاشعور او تحت الشعور څخه قبل الشعور او بيا شعور ته لار کوي. دغه د حواسو او ادراک له لارې د شعور دايرې ته د چاپېريال د عناصرو ورننه‌وتل، په هغه کې د «ګټورو» مواردو خپلول او د شعور له دايرې څخه د ځوروونکو، دردوونکو يا نامطلوبو مواردو ايستل (شاته تمبول او د ارواييي جوړښت نورو برخو ته يې لېږدول) او بيا د همدغو ايستل شويو مواردو بېرته را مخ ته کېدل په ساده ټکو کې د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



«اروايي فعاليت» جوړوي. په اروايي جوړښت کې شعور هغه ساحه ده چې د حواسو او ادراکي وسايلو له لارې ورته له چاپېرياله څخه د شخص خپلې فردي تجربې او د بهرنۍ نړۍ اغيزې را ننوځي، هغه څه چې شخص يې غواړي خو تحقق يې ناشونی وي يا هغه څه چې شخص يې نه غواړي او زغمل يې ناشوني وي ترې د اروايي جوړښت نورو برخو ته ورايستل کېږي. تر دې چانړ وروسته د شعور د دايرې محتوا تثبيتېږي. د اروايي جوړښت هغه برخه چې شاته تمبول شوي او لېږدول شوي موارد ورته د شعور له دايرې څخه ورځي، تحت الشعور دی. د دغو تمبول شويو او لېږدول شويو مواردو يوه خورا کوچنۍ برخه همدلته پاتې کېږي او يوه ستره برخه يې د تل، يا اوږده مهال له پاره له شعور سره خپله مخامخ اړيکه له لاسه ورکوي.

ډېره يا لږه، د تحت الشعور محتوا له شعور سره په اړيکه کې ده او د دواړو طبقو تر منځ د محتوا تبادله ډېره گرانه نه ده. له نورو طبقو سره د شعور اړيکه نا مستقيمه ده او د محتوا تبادله يې هم هغومره ساده نه برېښي. اروا پوهان فردي او ټولنيز لاشعور ته د لاسرسي لارې په خوبونو، شعر، افسانو، انگېرنو او بېلابېلو رواني غوټو کې لټوي.

د فرويډ له نظره خوبونه د لاشعوري غوښتنو د تحقق يوه لار ده. همدا راز کله چې انسان په وينا کې يا په عمل کې سهوه کوي، دا سهوه د هغو شاته تمبول شوو رواني توکو زيم دی چې د شعور په سطح کې راښکاره کېږي. شاعرانه انځورونه هم په خپل ذات کې هغو خوبونو ته ورته دي چې خلک يې په ويښه ويني.

په لومړي سر کې چې د اکمل اعلام له شعرونو سره مخ شوم يو ډول ناراحتي يې را ته پيدا کړه. کټ مټ لکه کله چې څوک داسې يو څه وگوري چې هم ورته د ښکلا له منل شوو معيارونو لېرې ښکاري او هم ترې سترگې نه شي اړولای. همدې ناراحتۍ اړ کړم چې بيا بيا يې ولولم. او په هر وار لوستو مې په کې يو څه موندل چې بايد ورته تم شوی وای. له ځينو شاعرانو ملگرو سره مې پرې خبرې وکړې، هر يوه به ويل : «يو څه په کې شته!» خو دا يې نه ويل چې دا «څه»، څه دي.
«که خوبونه رښتيا کيږي نو زما دې نيم رښتيا شي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبونه، مخکې مو وويل چې د اروايي جزيرو تر منځ په لړو کې ورک پلونه دي چې له عيني جهان څخه اخستل شوي توکي په کې د اشباحو په څېر ښکته پورته کېږي. څه خوبونه د هغو غوښتنو اووښتې بڼه ده چې په شعوري ډول يې تحقق ناشونی ښکاري او له دې ناشونتيا زېږېدلی محروميت په روان کې يو ډول ناپېژندلی اظطراب را منځ ته کوي. د خوبونو يوه بله برخه هغه گواښونه او خطرونه دي چې په عيني دنيا کې شته خو ذهني دنيا ته يې راتگ له زغمه وتلې وېرې او ترهې پاروي. د تاريخ په اوږدو کې انسانانو هڅه کړې چې د خوب له لارې ناڅرگندې، خو حتمي، راتلونکې او ډارووونکې خو شکمنې ماضي ته لاسرسی ومومي. د خوبونو ريښتيا کېدل د بشريت تلپاتې هيله ده (خوب دی)، خو دې ټکي ته يې کم وگړي پام کوي چې نيم خوبونه ټول هغه بلاوې دي چې په خواری مو ويدې کړې دي او راويښول به يې د هر عادي انسان له طاقته وتلې خبره وي.

نو دا وينا يا د ژورې څېړنې او يا د لارښوونکي الهام نتيجه ده چې:

«که خوبونه ربښتيا کيږي نو زما دې نيم ربښتيا شي»

اکمل اعلام په خپله شاعرۍ کې د انسان د روان متضادو تمايلاتو ته نظر اچوي، د بې رحمه واقعيتونو په خونړي گرداب کې د «زه» له څانگو او لکړو جوړه، په وښو او بوټو تړل شوې جاله د شک او باور تر څنډو پورې باسي، را پورې‌باسي.

د دغه نا اشنا حالت د بيان له پاره اکمل په ژبه کې هم همدغسې يوه نامتعارفه لار غوره کړې ده. دی عربي او فارسي کلمات په کثرت او وفرت خو په هېښووونکې دقت کاروي. لوستونکی داسې انگېري چې هر ټکی يې د لغاتو له کتابونو په خواريو را ايستل شوی وي خو د کارولو طرز يې دا ښکاره کوي چې اکمل په اگاهانه ډول هغه د «ناخودآگاه» کانې کوي، هغه څه چې ويل يې دردوونکې دي د نااشنا کلمو په شخولو کې يې رانغاړي او لوستونکي ته يې وړاندې کوي.

خو اکمل يوازې له خوبونو سره لاس او گرېوان نه دی. هغه د خپل ايديال «زه» - هغه چې «سوپر ايگو» («زبَر زه») يې ترې غواړي خو دی يې نه غواړي – پر وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل واقعي «زه» سره تړلی پاتې کېږي. دا تړلتیا هممهاله د خوښۍ او غرور احساس هم ورکوي او د دېوالو تر شا د یو ډول نامحسوسې ناراحتۍ (گونا) ښکالو هم اوري. د ده په وینا «زه هغه نه شم کېدای چې ستا په کار دی خو خپله دغه ناتواني په حقیقت کې یو ډول ځواک بولم چې په هېڅ قیمت یې له لاسه ورکول نه غواړم.»

**ستا زړگی د قدر دی خو زه دې د ښې نه یمه**
**ستا د ناز ادا قدر کوم خو وړی یې نه شمه**

**ته به ما هم هغه روماني محب عاشق بولې**
**پام چې خطا نه شې زه اوس نور غمونه هم لرم**

**ژوند راته بې شمیره منزلونه ښيي ایښې دي**
**ته که پکې ښه شې منزل شې بیا هم لرې یې**

**ستازړه که هر څومره غټ شي هر څومره مې وزغمې**
**هر څومره که صبر شې زما زړه به دې سترۍ کړي**

**یا خو خپل احساس زما احساسه پورې وگنډه**
**یا کلارې کینه دا مزل خلاصیدل نه لري**

**زه چې پکې تول عمر روان یم چرته نه رسم**
**ستا د څو شیبو مزل به تا چرته ورولیږي**

**داسې گمان مه کوه چې زه د خود خواهۍ په دود**
**تا ځان نه پریږدم او زه روان یم د منزل په لور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه يـې چـې منـزل بـولم هغـه خـپله سفر دی تـول**
**هســـــې بـه ستومـانـه شې او زه بـه بدل نـه شمه**

«زبر زه» (سوپر ايگو) چې څه غواړي، «زه» يې ورسره نه مني. عادي وگړي له دې تضاده رواني غوټه او ستونزه جوړوي، خو شاعر يوه، نيمه پټه لار هم ليدلې. ما يو وخت ويلي وو: «شعر بغاوت دی». اوس هم تر ډېره په همدې باور يم. خو د اکمل شاعرۍ دا هم را زده کړه چې بغاوت په نرمه غاړه هم کېږي او که لږه بې پروايي هم ورسره شي نو له پخو لارو وتل يو ډول جذابيت هم پيدا کوي او د «زبرزه» له ديکتاتورۍ هم پرې مخ اړول کېدای شي. د شاعر بغاوت يوازې «عکس العمل» نه دی، «عمل» دی او د شعور په دايره کې يې کوي:

**علم عقل کې مې شک دی په عمل کې مې تاوان دی**
**پ ه رســــمونو غـولیـدلی یـار پـه تپـو ور روان دی**

**نو خبرې او تـاریخ رواج او دیــن څنگــه یـــو کیږي**
**نه دســـتار زما مـــذهب دی نـــه قبضه زمـا ايمان دی**

**کـه د عـلـم او عـلـومـو تـوپـیـر عـلـم نـه دی کـړی**
**نوچې يو زده کوم ښه دی‌او چې‌بل زده کوم وران دی**

**د ښـــو بـدو یـو معیـار دی او هغـه يـې رازده کړی**
**نو د دواړو ترمينځ فرق ستا مخکې ولې‌دومره گران دی**

شعر او فلسفي فکر ډېرو شاعرانو سره گډ کړي دي، د اکمل اعلام په وينا کې د فلسفې خاپونه ښه پرېمانه دي خو په پټولو او ځرگندولو کې يې د شاعرانه بيان جادو پوره کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اثر د پښتو په شاعرۍ که یوه نوې لار پرانیزي. څوک به یې بدرگه کړي او که نه، دا به د نن او سبا تر منځ نالیدلي پلونه را ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیم رښتیا خوند و رنګ

پښتو د سېلاب، څپو د خج و آهنګ او د ضرباتي موسیقیت د شرنګ و غورځنګ ژبه ده. د تورو د سِکو ډېروالی یې د معنی او ښکلا ډېره متاع را نیولی شي. د کلماتو له متحرک او روان حالت سره له ساکن نه حرکت کولی شي. چې همدې حالت پښتو ته لا غورځنګي خوند و رنګ ورکړی دی. له ساکن حالت نه تګ په ټوپ او جمپ سره کېږي. لکه په اتڼ کې چې یو اتڼ چي تاو شي را تاو شي، مات شي را مات شي، او له ولاړ حالت نه په ښکلي انداز مخې، شا یا څنګ ته لاړ شي. دا حالتونه په نقاشۍ کې هم کېږي. مستقیم خطونه یو انځور نه شي پنځولی. بایده دي چې خطونه کله منحني او کله مات را مات شي. دا عملیه په خیاطۍ او ګلدوزۍ کې هم کېږي، هلته هم د مستقیم او روان حرکت تر څنګ منحني او منکسر یا مات را مات حرکتونه ډېر دي. نقاشي او اتڼ دواړه هنرونه دي، چې جمپ و خېز او ماتېدل را ماتېدل په کې لویه ونډه لري.

په پښتو شعر کې همدا ټوپ، ماتېدل را ماتېدل آهنګ او ضرباتي یا غورځنګي حالت موسیقۍ ته په آسانۍ لاره ور تېروي.

ځکه خو په پښتو شعر کې موسیقي او آهنګ په آسانه پیدا کېږي. خو ښه شاعري یوازې وزن، خج،آهنګ او د سېلاب او څپو برابرول نه دي. دلته د عالي خیال، د عاطفې او احساس، د معنی خواږه رسول، صمیمانه او نوی تصویري انداز دا هر څه باید وي، چې شاعري پرې ښکلې او زړه راښکونکې شي.

پاس یاد شوي دواړه صلاحیتونه د بختورو په نصیب وي. زه بختور یم چې د یوه داسې بختور شاعر د شعرونو ناڅېره شوې شاعري لولم . د دې شاعرۍ ناز و ادا او انداز نوی او شاعرانه دی. د ښاغلي اکمل اعلام نیم رښتیا لولم. ګرانو لوستونکو تاسو حیرانېږئ مه، نیم رښتیا د شاعر د همدې کتاب نوم دی. دا نوم هم ډېر جالب او زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راښکونکی دی. له دې نوم نه هم د شاعر د شاعرانه ذوق پته لګېږي. د شاعرۍ دنیا یوه ماشومه دنیاګۍ ده، د ارمانونو له خوبونو ډکه. شاعري لکه په ویښو سترګو خوب داسې ده. خوبونه د اصل غونډې نه وي، رنګ آمیزي په کې ډېره، او ارمانونو ته رسېدل په کې آسانه وي. بنیادم د مارغه وزرې وکړي، پر دنګو څوکو الوزي او له خپل الوت نه خوند او کیف اخلي. په دې خوند او کیف کې د مقصد څوکې ته هم ځان رسوي. بس شاعري کټ مټ همداسې ده. د خیال په الوت سره په خوند او کیف سرې د یوې پېښې، د یوې موضوع بیانول او مقصد ته رسېدل دي.

**که خـــوبـونه رښـتیا کـــیږي نـو زما دی نـیم رښـتیا شي**
**هغه نـیمو کی چی ته یې هغـه خوب دی او خوب ښـه دی**

د ښاغلي اکمل شاعري د خوبونو غونډې خوږه او عجیبه ده. عجیبه مې ځکه ووې، چې د روایاتي او تکرارۍ شاعرۍ په څېر نه ده.
د انګریزۍ ژبې یو شاعر رابر فراست وایي:
له ځنګل نه ډېرې لارې تللې وې، خو زه پر هغه لاره لاړم چې ډېرخلک پر هغه لاره نه وو تللي.

ګران شاعر اکمل هم په داسې لاره روان دی، چې بیرو بار په کې یا هېڅ نه شته او یا کم دی. د شاعر په شاعرۍ کې نظمونه ډېر دي، غزلې هم شته. په دواړو ډولونو کې شاعر خپلې خبرې کوي، د تکراري شاعرۍ له غباره په څنګ دي. تر یوه ځایه ځانګړې دي.
خوبونه د ژوند نیمګړې او تت تصویرونه دي. کله کله بوږنوونکي او وېروونکي هم وي.

شعر او هنر یوازې خواږه نه وېشي، د ترخو او دردونو وېش هم کوي. خو دا هر وېش په هنر کوي. که خواږه دربانديې وېشي، نو زړه دې د ماشوم غونډې کټ کټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندوي، او په ماشومانه ګډا دې راولي. که بیا ترخه او له درده ډک وو، نو بیا دې له خوږلني سره ګډ درد را وینښوي، او د دردونو د درمان فکر درسره پیدا کوي.

د چین د قدیمو پېړیو یو فلسفي خوب ويني، چې مهین او رنګین الوتونکی دی، پر ګلونو ګرځي، د ګلونو له رنګ و خوشبو خوند اخلي. چې کله را ویښ شي، ځان ګوري چې بنیادم دی. له ده سره فکر پیدا کېږي، چې آیا دا ویښه به رښتیا او حقیقت وي چې دی د یوه بنیادم په بڼه دی او که هغه خوب چې رنګین وزری الوتونکی و. دا ښکلی او په دوه لارې کې ولاړ شک ، اکمل شاعر د یوه هیبتناک خوب له مخې داسې بیانوي:

**دا د ډاره ډک خـــــوبـــونـــه**
**دا د غـــیـبـــــو اوازونــــــه**
**د جـــانـــان د غضـــب ستـــرګې**
**پکې شــــــر او ســــــل شکونه**
**د خنـــدا نـــــه تـــرس او وهم**
**بس ژړا او فــــریـــادونــــــه**

**هسې نـــه چې دا رښتیـــا وي**
**هسی نـــه چې زه بیـــدار یـ ـم**
**هســې نه زه چې په زه ویخـــــه**
**پــــه دې وهــم ګـــرفتـــار یـم**

**کـــه دا وهــم هــم وي ښـــه ده**
**خـــو یا ویل کـــه حقـیقـت وي**
**دا دردونـــه فـــریـــادونـــــه**
**مـــې د مینـــې بـــرکـــــت وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کـــــه مې دا دمهـــر حـــال وي**
**نـــــو نفـــرت ترینه ښـــه نـــه وو**
**چې په ســـد مې دا کیفیت دی**
**لیـــونتـــوب بـــه مې لا څـــه وو**

**اوس چې هر څنګه یم ښـــه یم**
**بس دی نـــــور بـــــدلیدی نه شم**
**همــــدغه مې زنــــدګـــي شــــوه**
**بې لـــه درده کیــــدی نـــــه شم**

**دا د ډاره ډک خـــــوبـــــونـــــه**
**اوس پـــه ویخـــه بـانــدې وینم**
**بې لــه دې مې ژونـــــد نیمګړی**
**بس همدا مې زنــــدګي شــــوه**

ښاغلی اکمل ښه روان نظم لیکي. په نظم کې د خپل ژوند رواني تجربې راوړي. څه لږو ډېر فلسفیانه رنګ هم پرې شیندي. غزلې یې هم په همدې قدم رواني دي. د اعلام د یوې خوږې غزل په اعلان سره د اهل ذوق او د شعر مینان د ښاغلي اکمل اعلام خوږې شاعری ته را بولو.

**ستا د حســن اثـر نـــور پـــه ما خطا شي**
**ســــتـــا ادا راتــه فـنـا فـنـا فـنـا شي**

**ژوند عادي شي ته عادي شې زه عادي شم**
**یـو تـاریخ یـوه قصـــه شـــي چـــې سبا شي**
**دا د زړه درزا مې اوس د زړګي رنځ دی**
**هغـه تیر شـــو چې تـا ویني پـه درزا شي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مــې تنـــګ لـــکه دا ستـــا د زړګي لاره
خـو دننــه پکـــې نیـم جهـــان بـسیا شــــي

رنــګـــینۍ مـــې د ژونـدون واړه په داو کړې
بس یو تور وینم یو ســـپین، ســـهر بیګا شي

داســـې شر چې هر عصـــب یې راخراب کړ
داســې قهر چې خپل نفس ځینې ترســا شي

د وصـــــال د څو شـــیبو مســـئلـه نـه ده
پوره ژوند دی دا به څه شــــي چې په تا شي

یو ســـکون وي خـاموشي وي یو آرام وي
چې اعـلام ســـــترګې ورواړوي غـوغـا شي

ګران شاعر دې تر دې هم په شاعرانه غورځنګ او خوند و رنګ روان اوسي.
آمین، کاروان ، خوست
۲۵ جوزا ۱۴۰۰ هجري شمسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نیم رښتیا

که خـــوبـــونـــه رښتیـــا کـــیږي نـــو زمـا دې نیم رښتیـــا شي
هغه نیـــمو کی چې تـــه یی هغـــه خـــوب دی او خوب ښـــه دی

زه پـــه بلـــه لار روان شـــوم نیـــم خـــوبـــونـــه مې راتېنـــگ کـړل
د پـــــردو غمـــونـــــو لاره د رســـمـــونـــــو رواجـــونـــــو

پـــــاکـــه منـــده ده او زه یـــم نـــه ودریـــږم نـــه ستنیـــږم
لکـــــه زه چې د دې نیـــم خـــــوب د تعبیر د پـــاره شـــته یـم

کـــه پـــه دغـــه پیچ و خـــم کې دا نیـم نـــور هم را رښتیـــا شي
نـــــو پـــــه ورکـــه کې بـــه ورک شم پـــه تاریکه کې بـــه ړوند شم

پـــه دې خپـــل نیمگړي خـــوب کې دومره ورک یـــــم دومره ستړی
چې دا نـــــور کـــه را رښتیا شو نـــه بـــه دلتـــه شـــم نـــه هلتـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې کيږي چې مې ټول خوبونه خــوب غــوندې رښـــتيا شي
خــو د دود دستــور د گـــنډو وس مې نـــور پـــه سر کې نشتـــه

نـــو همداسې ښـــه يـــم منـــدې مې په ويخه او تـه خوب کې
که خـــوبـــونـــه رښتيـــا کـــيږي نـــو زمـا دې نيم رښتيـــا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تور او سپین

ستـــا د حسن اثـــر نـــور پـــه مـــا خطـا شي
ستـــا ادا راتـــه فنـــا فنـــا فنـــا شـــــي

ژوند عادي شي تـه عادي شـې زه عادي شـم
يـــــو تاريخ يـــوه قصـــه شي چې سبـــــا شي

دا د زړه درزا مې اوس د زړګـــــــي رنـــــځ دی
هغـــــــــــه تير شـــــو چې تا ويني په درزا شي

زړه مـــې تنـــګ لـــکه دا ستـــــا د زړګـي لاره
خـــو دننـــه پـکې نيـــم جهـــــان بسيـــا شي

رنګينۍ مې د ژونـــدون واړه پـــــه داو کـــــړې
بس يــــــو تـــــــور وينم يو سپين، سهر بيګا شي

داسې شـــــر چې هـــــر عصـــب يې راخراب کړ
داســې قهـر چې خـپل نفـس ځيـنې ترسـا شي

د وصـــــال د خـــــــــو شيبو مسئلـــــه نـــه ده
پـــــــوره ژونـــد دی دا به څه شي چې په تا شي

يـــــو سکـــــون وي خـــاموشي وي يـــو آرام وي
چې اعـــلام سترګې ورواړوي غوغـــــا شـــــــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتون دین

د عـــرب نطـــــق و لســـــان لکـــه د ستر
او پنهـــــــان پکـــــې شبـــــاب زما د عصر

افـتـــــان د حـــــوادثـــــو د قصـــــو
مستفیـــــد تـــــرې امـــــرا د بـــرج و قصـــر

زمـــــا شاب ورته پـــه روغه کـــور و کـــر دی
نـــــه منطق نـــــه استـــــدلال، لکـــه د صغـــر

د کاذبـــو مکافـــاتـــــو حـــرص و طمـــــه
نه شعـــور د حق نـــه فـــرق د حمـــر و خضـــر

چې دا وعظ که تسـویق د غیر عجــــم دی
زمــــــا دین شرق الاوسط دی که کل دهر

پـــــه حرمت د هـــر حـــلال مجـاز په قتل
او مجـــازِ شـــــرعـــي افتــــــی د کفـــــــر

علـــــمِ دین علـــــمِ دنیا تفریق د دیـــن دی
کاینــــــات طـــالب زمــــا د غـــــور و قـــدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پـــــه قطره تمام جهان مشغول پـــــه بحث**
**چشـــم پوشــه نظـــر بنـــده لـــه دې بحر**

**د اعــــــــــلام هر اختلاف ظلما د لیل شوه**
**او د جهـــل هـــر نظـــر طلـــوع د فجـر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرق

چې پــه تــا پسې روان وم چــې پــه تا پـــوره کـــیدلـــم
نــــه مــې نـــوم غـوښتـــو نه نښــه ستا د یو نظر بدل کې

هغـــه کیف هغـــه ســــرور هغـــه نشـــه ستــا د عیـــونـــو
هغــه بې دلـیـلـــه لطـف د ارمـانـونـو پــه دلـــدل کې

مـــا وي هـــر څـــه مې همـــدا دي د حیات دغه یو مخ دی
کافي زه یــــم کافي تـ ــه بې کافي دواړه پــــه یـــو بل کې

د وصــــال نـــــه تـــر خبـــرو پــــورې دومـــره اوږده لاره
او خبــــرو نــــه تــــر ننه ټـول پــه یـــو قـدم مـزل کې

زه هغـــه یـــم تـــه هغـــه یې نـــو نـظـــر ولې بـــدل شـــو
د وصـــال هغـــه غـــوغـــا هغـــه شـور نشتـه په ګوګل کې

مـــا خــو یـو خیـل پیـــژنـدلـو جـوړ څـــو خیـــله محبت وو
یـــو هغـــه چې لـیـونتـوب وو او یـو دا پـه چـل او ول کې

لا تــــر اوســـه راتـــه ګـــران یې لا تـر اوســـه در مئین یـم
خـــو چې ولې اوس عادي شـــو ستـــا ګلونه په اوربـــل کـــې

ښــه پــوهیـــږم چې ځـــواني نـــه راستنیـــږي بیـا هم ګورم
کــه یـــو څــه مینـه بـاقي وي د دې ستـــړي زړه په تـــل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سفر

ستـــا زړگـــی د قـــدر دی خـــو زه دې د ښې نـــه یمـــه
ستـــا د نـــاز ادا قـــدر کـــوم خـــو وړی یې نـــه شمـــه

تـــه به مـــا هـــم هغـــه رومـــانـــي محب عـــاشـــق بـــولې
پـــام چې خطـــا نـــه شې زه اوس نـــور غمونـــه هم لـــرم

ژونـــــد راتـــه بې شمیـــره منـــزلـــونـــه ښـې ایښـــې دي
تـــه کـــه پکې ښـــه شې منـــزل شې بیـــا هـــم لـــرې یې

ستا زړه که هر څـــومره غټ شي هر څومره مې وزغـــمې
هر څـــومـــــره که صبر شې زمـــا زړه بـــه دې ستړی کـــړي

یـــا خـــو خپل احساس زمـــا احساســـه پـــورې وگـــنـــډه
یـــا کلارې کـــینـــه دا مـــزل خـــلاصیـدل نـــه لـــري

زه چې پـــکې تـــول عمـــر روان یـــم چـــرتـــه نـــه رسم
ستـــا د څـــو شیبـــو مـــزل بـــه تـــا چـــرتـــه ورولـــیـــږي

داسې گـــمان مـــه کوه چې زه د خـــود خـــواهی پـــه دود
تـــا ځـــان نـــه پریـــږدم او زه روان یـــم د منـــزل پـــه لـــور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه يې چې مــنزل بــولــم هغـــه خپـــله سـفر دی ټـــول**
**هسې بـــه ستـــومـــانــه شې او زه بـــه بـــدل نـــه شمـــه**

**تــا تــه دومــره بس دی چې د زړه حـــال درتـــه وايمـــه**
**ما ته دومـــــره بس دی چې مې اوس هم په زړګي کې يې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ادب مجازي فکر

د اب مجـــــــازي فکــــــــر
د اشنــــا د حســـــن ذکــــــر

د زړه درد د جګــر ســــــوز شي
ډوب خمـــار د شب او روز شــــي

د بـــنــــو د غــشــو زخــــم
د فـــراقـــه تـــرس او وهـــــم

د مستـــــې نـــــه شـوګـیـرونـــه
او د عشـــق او حب شـــعـــرونـــه

انـــتـــظـــار د لـحـظـــاتــــو
بـــې چـیـنــي د خــاطـــراتــــو

دا دی ټـــول مې عملي کـــــړل
قسمت ټـــول پـــه مـا پلي کـــړل

د مجــــاز نــــه حقیــــقت تــــه
او د حســـن نـــه دولت تــــــه

ټـــول مـــزل د یـــو قــــدم وو
ټـــول تغیر مې پـــه یــــو دم وو

د زړه درد اوس مـــریـــضـــي ده
عـــلاج تـــه نـــه، تـــداوي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جگــر تــکلــیــف جــــــزا ده
کـــــه د عـــمــــــر تـقــاضـــا ده

خـــمـــــار هـــــم اوس د دوا دی
خـــنــدا نشتـــه خـــوب فـنـــا دی

بې چیني روحــــي مـــــــرض شـــو
حب تکیـــــه شـوه عشـق غرض شـو

دومـــره فـــرق د دواړو نـــــه دی
هغــــه ژونـــــد وو دا هم ښـــه دی

هغـــــه ستـــا د عشــــق سنـــدره
دا زمـــــــا د ژونـــــــد خبـــــره

هغـــه درد مـــــې مجـــــــــازي وو
دا کـــــړاو اوس حـقــیـقـــت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنتونه

علـــم عقــل کې مې شک دی پـــه عمــل کې مې تاوان دی
پــه رسمـــونو غـــولیـــدلی یـــار پـــه تېپـــو ور روان دی

نـــو خبـــرې او تـــاریـــخ رواج او دیـــن ځنـــګه یـــو کیږي
نـــه دستـــار زمـــا مذهب دی نـــه قـبـــضه زمـــا ایمـــان دی

کـه د علـــم او عـــلومـــو تـــوپیـــر علـــم نـــه دی کـــړی
نـــــو چې یـــو زده کوم ښه دی او چې بل زده کوم وران دی

د ښـــو بـــدو یـــو معیـــار دی او هغـــه یـــې رازده کـــــړی
نـــــو د دواړو تر مینځ فرق ســـتا مخکې ولې دومره ګران دی

چې زمـــا په مـــرګ به کـــوم جنت ته ځې زه خـــو مســـلم یـــــم
چې دا څومـــره جنتـــونـــه دي جـــنت ورتـــه حـیـــران دی

زمـــا علـــم او هنـــر او صـــداقـت چغـــې ســـورې کـــــا
چې نـــه بـــد یـــو نـــه حرام یـــو دین مو حق مذهب مو آن دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خودفریبی

کـــه د حب معـــیـــار جـــمال قـــدوقـــامـت وي
نــــــو پـــــه ما څنـــگه مئیــن شوې که ړوند نـه يې

ستـــا د عشـــق معـــیـــار بـــه دا نــــه پـــوهیـږم
خــــو د نـــورو معـــیـــارونـــو نــه مې ډار شـــي

هســـې نـــه چې پـــه خبـــرو مې تیـــروتـــــــی
دا د څـــــو شـــيبـــو اخــــلاق تـقـــلبـــــي دي

ما د لاســـه ځان نـــه ښـــه ســـړی جـــوړ کـــړی
خـــو اصـــلا گـــوره خـــودخـــواه او خـــودنما یم

چې تـــــر کـــومې مې مطلب وي درپســــې یـــــم
بیـــا نـــو تـــه پـــه خـــپله لاره، زه د بـــل چـــــا

کـــه بـــل څـــوک مې پـــــه خبـــرو عاشق نه شـو
مـــا تـــه نـــور چـــلونـــه هم راځي هوښیـــار یم

که ســـتا ژوند په دی خراب شي ســـتا مشـــکل دی
زه د ټـــولې جـــامعې ټـــیـــکه دار نـــه یـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د خپــــــلو ځـــو شیبـــو پـــه غم کې ورک یم
کـــــه تـــه نـــه یې د شیبـــو عاشقـــان ډیـــر دي

زمـــــا نقـــص پـــــکې د ځـــو ورځـــو خبرې
خـــــو ستـــا نقـــص پـــکې د عمـــر تباهي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټکنالوژي

دا د عــقـــــل هــــم معيـــار دی
پـــه ســـانتيـــــو پـــه بـــايټـــونـــو

کــــه لږ کـم وی زه کـــرپټ شــــم
کـه لـــږ زيات وی ته کـــــرپټ شې

جـــامعــــه لـــوړ بيـلـــــنسر دی
خـــــو ماډل يې اوټ آف ډيټ دی

دا د عـــــقـــــــل او د فــــكــــــر
بيـــلــــنس دومــــره مشــــكل نه دی

كلـــه تـــه ځان لـــږ اپډيټ كــــړه
زه بـــــه خپل څه فيچرز تــــم كړم

چې تــــر څــــو مــــو سوچ يو نه شی
چې تـــــــر څو مو ليينک اپ نه شي

انټركشن مــــــــو مشـــــــكل دی
انــــوايـــرنمت بـــه كـډ او وډ كړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جرگه

د خپل ځـــان سره په جنگ یم
د خپل ځـــانــــه مـــرور یـــم
پـه دې جنـگ پـه دغې شر کې
زه پخپلــــه جـــرگه مـــار یـــم
زه پـــه حقــــه یمــــه گونــدې
نـــه منـکر کـــوم نـــه ډېر عرف
خـــو بـل هم بـایـد همـــداسې
هـــم زمـــا پـــــه لار روان وي
جـــامعــــه دې مـــا تـــه گوري
او زمـــا پـــه ځیـــر دې گرځي
زمـــــــا لار د کتـــــاب لار ده
زمـــا هـــر قـــدم پـه شمار دی
نـــو دا نـــور بیـــا ولې داسې
زمـــا کار تـــه غلـــط وایـــــــي
کـــه غلـــط وي زه ړونـد نـه یم
ښـــــه او بـــد جـــدا کوی شم
پـــه حساب مې بـــرابـــر یــــم
او حسـاب به مې حســــاب وي

***

بیا زه ځان ته په غوسه شـــــــم
وایم ستا حساب که ســــم وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــــو دنیـــــا ولاړه نــــــه ده

دا نــور ټــول ولې گــمــراه دي؟

دوي کتــــــاب نه خبر نه دي؟

دوي حساب نــه خبـــــر نه دي؟

دا يـــو تـــه داسې تورزن يې؟

چې د ټـــول ملت بـــابـــا شې

خلک ژوند کوي خپل ځان ته

خلک ځـان ســره پخـــولا دي

خـــلک رنگ تـــه نظر نـــه کړي

گـــوره خـونــد ورتـــه مهم دی

تـــا ځـــان هســـې شـــرمـــولی

کـــه خبـــره دې ښـــه هـــم وي

دا وخت تـــا د پـــاره نـــــه دی

د خپـــــل کار ســــره کار ساتـــه

جـــامعه ځـــان جـــوړوی شي

دا تـــه ځگـــه داسې سپـــک يې

چې دې قـــــام په سر اختـی

تـــــه د هـــــر چـــا ذمه وار يې

***

اوس د ځـان او ځـان جرگـه ده

زه پـــوهيـــږم چې زه ســـم يـم

خـــــو پښـــــتو راتـــه ويیلـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغـــه مـــخ چې لـــه ځـــو کسو
پـــه يـــو ځـــای ځپيـــږه وخوري
کـــه هـــر څومـــره بې گناه وي
کـــه هـــر څـــومـــره بـــې ازاره
خـــو گنـــاه گـــوره د مـــخ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډار خوب

دا د ډاره ډک خـــــوبـــونــه
دا د غـــیبـــــو اوازونـــــه
د جـــانـــان د غضـــب ستـــرګې
پکې شــــــر او ســــــل شکونه
د خنـــــدا نـــــه تـــرس او وهم
بس ژړا او فـــــریـــــادونـــــه

هسې نــــه چې دا رښتیـــــا وي
هسی نــه چې زه بیـــــدار یـــم
هســـې نه زه چې په زه ویخــــــه
پـــــه دې وهــم ګـــرفتـــار یـم

کــــه دا وهم هــم وي ښـــه ده
خـــو یا ویل کـــه حقـیقـت وي
دا دردونـــــه فـــریـــــادونــــــه
مـــې د مینـــې بـــرکــــت وي

کـــــه مې دا دمهـــر حـــال وي
نـــــو نفـــرت ترینه ښـــه نـــه وو
چې په ســـد مې دا کیفیت دی
لیــــونتــــوب بــــه مې لا ځــــه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس چې هر څنگه یم ښــــه یم**
**بس دی نــــور بـــدلیدی نه شم**
**همـــــدغه مې ژنــدگـــي شـــوه**
**بې لــه درده کیـــــدی نـــه شم**

**دا د ډاره ډک خــــوبــــــونـــــه**
**اوس پــــه ویخـــه بـانـدې وینم**
**بې لــه دې مې ژونــــــد نیمگړی**
**بس همدا مې ژنـــــدگي شـــوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خساره

عـجـیبـه غـــونـدې دوش دی
کلـــه تـــه زمـــا نـــه مخـکې
کلـــه زه لـــه تــا نــه مخکې
دا لا څـــنګـ ـه رقـــــابت دی
پــــاکـــــه منـــدېه ده او مونږه
نـــه د ځـــان د حـال احوالـه
نـــه خبـــر پـــه ښـو پـه بـدو
تـــه خندونـــه ماتــــــه ډیر کړې
زه لـــه تـــابه تـــا خطـا کړم
پـــــــه همدغه کش و ګیـــــر کې
نـــه د رب نـــه د بنـــــــده شو
شـــا تـــه څومـــــره زیبائي وه
څومره تـاب څـومره سـکون وو
څـــومـــــــره حب وو مینتوب وو
څـــومــــره قـــدر د یـــو بل وو
هغـــــــه ټـــــول مـو صدقه کړل
خپـــــل ســــرعت او بلنـــدۍ ته
نـــو پـــه داسې رقـــــابت کې
کـــــه همــــه ګټـــه زمـــا وي
بیـا هم زړه کې پـټ پوهیـــــږم
چې خــــاسر یمـــــه خـــــاسر یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غبا

د نـــاصح خـــبـــره ښـــــه ده
پـــــه شـــدت د ثقـل و ضخم
خــــو شــدت هـم يو واحد دی
چـا کې ډير پـه چـا کې کم وي
دا شـــدت زمـــــا د فکـــــر
يـــا د ټـولـو نـه بـــــدل دی
يــــا يې ثقـل ضخم ډيـــــر دی
تـــا خـــو نيم خلک قـــانع کړل
او نيم نـــــــور لا پکې ورک دي
خــــــو زمـــا پـــه قنـــاعت کې
د پيتـــاوي داستـــانـــونـــه
د ادبـــــه وتـــې ټـــــوکــــې
د پښتـــون اســـلام غمــونـــه
دا کـــم نـــه دي دا غلـــط دي
دا تـــاريـــــخ دې پـــرونی دی
دغـــــه ټـــوکـــــې د ژړا دي
دا اســــلام دې بـــدل کــړی
او زمـــــا نـــــه تـــوقـــع کــړې
چې دا ټـــــول درعملي کــــړم
نـــو بـــه زه څنگــــــه انسان شم
زه بــــــه څنگه مسلمان شــــــم
زمـــــا دا بـــدرنگـــــه ذهـــن
چـــې مـــــدام يې غـــلط بولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دردونو فـــريـــــادونـــــو
يــــو پټــــه مجمـــوعـــه ده
دې کې داســـې څـه پراتـه چې
په ســـويه کې لږ بــــــالا دي
د رب فکـــــر پکـــې داســـې
لکـــــه دا همـــه غـمـــونه
چې پـــه يـــو دعـــا ختميـږي
او دا ستـــا نصـيحتـــونـــــه
مـــايوسی تــــه لـږ نږدې دي
د دې کار بس دغه حــــــل دی
پــرځــوې مې که جيگيــــږي
يـــا زمـــا خبـــــره واوره
يـــا مې ورک کړه لــــه غبا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پسوند

د سبـــا د د ډاره نــن رانــه بـــې ژونــــده
د فــراق لــه ویـرې ټـول وصال بـــې خونــده

په همــــه وجــــود تــــابع ستــــا د گفتــارو
خـــو کافــــــر د دې کافـــــــرو په څو چنده

د خنـــــدا او د ادا لـــــه نرخــــه مــــه ځـــه
کفـــــایت کا زمــــــا نـــــوم ستا لـــه پسونده

د غــــــزال سکــــــون پـــــه خونه د میړیو
او زما په زړه کې ستــــــــــا د وصـل تنـــــده

زمــــــا مینه ســـــتا پـــــه هـــــر نظر آشکاره
ســتا حیــــــــا زما پـــــه سـترگو کې څرگنده

ډیــــــر مــــــزل وو لـــــه پنهانه تر اعـــــلامه
بــــاقي ټولــــه زندگي لـــــــه دغـــــه پنـده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سلام

ستـــا ســـــلام راتــــه چــا اوې
هک حیران شومه په ځـــان کې
چې پـــه تـــا مې بـــاور نـه وو
کــــه مې ځـــان نـــه طمه نـه وه
چـــرتــــه زه مــــولا د ټکــــــو
تــــه د خپـــل نظـر پـه اوج کې
گـــــرچه لـــــږه فـــاصلــــه ده
خو ستـــــا ځاې نه لرې ښکاري
مـــا نـــه دا توقع مـه کـــــړه
چې بـــه درشم درنــــــږدې شم
ستـــا پــرواز لـــــږ عارضي دی
زمــــا ټـــکـــي د صدیــــــو
ستـــا غـــــرور لــــره زوال دی
زمــا نــور ټــکي زده کــیـــږي
پــــه اخـــره کې بـــه گـــــورو
چې د چـــا ســـره څـــــه کیږي
بــــاوجــــود د دومـــره فــرقــــه
بــا وجـــود د دې فــــــراقــــــه
ستـــا ســـــلام لکــــه د اوښـکو
زمــــا سترگو کې اشـــــــکار دی
اوس به ځـــــان ســـــره لږ کښینم
چې جـــواب یې چـــاتــه ورکـــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وحشت

اوحشت چې په غالب باندې غالب وو
هغه درد چې په احساس کې د تقي وو
ما هم ولیده احساس مې کړ غالب شو
یو سرور وو پکې خوند یوه مزه وه
له وحشته چې وحشت مې سوا نه شي
له دیداره گریزان شوم په وحشت کې
د دنیا زیست و روزگار رانه بې خونده
په خپل ځان کې داسې ورک چې پیدا نه شوم
کله دین کله کتاب کله سندرې
مازې وخت وو د خپل عقل غولول وو
یو تشویش لبریز د ډاره د دیداره
یو احساس د رنځ او وهم ستا په وړاندې
دې حالت دغه کیفیت دغه وحشت ته
مې پخپله نوم د مینې ور عطا کړ
عمر تیر شو وحشت ډیر شو زه بې وسه
چې په دې کې ناگهانه راښکاره شوې
په ما هیڅ ونه شو دا څومره عادي وو
دا د عمر تکلیفونه مې عبث شو
اوس خفه شم که خوشاله نه پوهیږم
که دا حال مې ټولو خلکو ته اعلام کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستړيا

د يـــــوې نيـــمې شيبـــې
پـــه ژوند کې دومره اثـــــــر
دا د کلـــونـــــو منـــــــدې
دا د قـــــرنـــونـــو مــــــزل
ستړى شم بيا روان شـــــــــم
ځملمـــه بيـــا پــــاڅيــــــږم
په سر حجـــــر د حيـــــات
پـــه زړه کې راز د هجـــــــر
خپـــو کې ځــــــواني راکاږم
لاســـــونـــه ډک د اميـــــد
خـــــو چې دا چـــرته ځمـــــه
نـــه د مــــزل انـــــــدازه
نـــــه د منــــزل کوم نشـــــان
بس ښـــــه کوه او گرځـــــــــه
بـــــد قبلـــــــوه او گرځـــــــه
نـــو خلک ځنگــــــــه وايـــــي
چې ژونـدون دومـره کـم دى
يــــا بـــــه پــــه خلکو کم وي
يــــا بـــه اعـــــــلام بدل وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځان

بیـــا حیـــران بیـــا پریشـــانـــــه
بیا خپل ځان راتــــــه رقیب شـــو
دا بـــه کلـــه فیصلـــه شـــي
چې تـــا واخلم که ځـــان واخلم
که ځان واخلم ته مې ځـــان یې
که تـــا واخلم زه بـــه څـــه شـــم
ستـــا خبـــره هـــم سهـــي ده
مـــا هم څـــو ټـــکي وییـــلي
خـــو کـــه هـــرڅـــه تاو راتاو شم
بـــیا همـــاغلتـــــه رارســـم
زه پـــه تـــا بـــاندې مین یـــم
ته په ځان بـــاندې پاک ورک یې
اوس کـــه زه لـــه ځانه تیر شم
نـــو پخپلـــه تـــا نـــه تیر یـــم
چې لـــه تـــا تیریدی نـــه شـــم
مجبـــور ځـــان لړ تحمـل کـــړم
خـــو مشکل مـــو لاینحل شـــو
نـــه د دې خـــوا نـــه د اخـــوا
یـــا بـــه دا رابطـــه شکیـــږي
یا مجبور چې ته اعـــــــلام شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قوس قزح

مـــا نـــه مهـــر پـــاتې نـــه دی زه تـــرې پاتې
پـــه زړګي کې مې کـــورونـــه ملاییـــــــن دي

دا الــــــوان دا بـــهـــارونــــــه د شبـــاب وو
اوس اقواس د مطـــر هم راته تـــــور سپین دي

تـــا لا دلتـــه زمـــا عشق تـــه میـــزان ایښی
دا دا شؤون د دې دنیـــا نـــه دي د دیـــن دي

د فــــــراق د ابتســـــامـــــه دومـــره پــــایم
د وصـــال الم بس کـــــــرښـــې د جبیـــن دي

راشـــــه تـــه زمـــا پـــه لاره پـه سبیل شه
د نفـــرتـــه نـــور د دواړو زړونـــه خـــوړین دي

چې په ســترګو کې دې ورک شـــو عشـــق یې ولید
چې پیـــدا شـــو لیـــوني دي مجـــانین دي

یـــو محیط د ډار احســـــاس نـــامشخصـــه
بیـــا حـــاکم زمـــا د مینـــې قاتلیـــن دي

څـــه زرین د زړه اســـرار څـــه امیـدونـــه
که اعـــــــــلام نه شي په ما باندې سنګین دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دود

د وفـــا پـــه خیـــال رویـــا ستـــا د جفـــا تخـتـــوم
د خـــریفـــه هـــر ورق پـــه خپلـــه ســـا تخـتـــوم

د احبـــابـــو او اصحابـــو نـــه تـــه مخـــکې راځې
ځکـــه ځـــان لـــه دې تمامـــو نـــه په شا تخـتـــوم

زمـــا دود زمـــا دستـــور زمـــا رواج داســــــــــې دی
چې د خپـــلې جـــامعې یـــې بـــې رضا تخـتـــوم

مـــا پخپله د خپـــل اب و جد پـــه پـــل پـــل ایښـــی
تـــه مـــــې آب تختـوه زه به دې حیـــــا تخـتـــوم

نـــه پښتـــون نـــه بې پښتـــو نـــه اجنبي نـه افغان
دود دستـــور کلـــه د چـــا کلـــه د چـــا تخـتـــوم

چې مې نـه غوارې نـاکـام دی خو عجیـب غونـدې دی
ستـــا راحت تـــه د اعـــــــــلام د زړه درزا تختوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حسبي الله

دا د شمـــس بنفـــش او حـــــار
د قـــمـــر لیــــل و نـهـــــار

دا انـهـــــار د طــبـیــعـــت
او د دوي بــــــــــــــې لارې لار

معطــــــر امـــــواج د ریحــــــو
دا جبـــــال او دا چینـــــــــار

سنگـــینـــې د دې احجـــــارو
زور قـــوت خفـــــا د نـــــار

د ظلمـــــا هغـــــه شـــدت او
صبـــــاح لون یې خودمخـتــــار

دا د نفـــــس تــــــرتیب او وزن
د زره سُـــــــرلـــــى کې درزار

د فصلــــــونــــــو مخکې وروستـه
څـــه تـــرتیب څـــه انتظـــــار

تفـــــاوت د ذهـــن و فکـــــــر
لــکــــه زه او زمـــــا یـــــــار

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د احســـــاس قـــدر و قـــدرت او**
**تجـــاهــــــل د دې دیـــــــار**

**دا ټول خپلــه مستحیـــــــل دي**
**دومــــــره نـــظم او نظــــــــار**

**چې اعـــــلام جز د نظام شــــــو**
**نـــو سجـــده مې افتخـــــــار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مزرعة الاخرة

زمـــا عقـــــل څـــه يـــو سِـــر دی
کلـــــــه سيـــــــر کـــــړي د سمـــاو
کاينـــــــــــــــــات ذره ذره کړي
د دنيـــــا و مـــــا فـــيهـــــا نـــــه
ذره هـــــم تمنـــــا نـــــه کـــړي
پـه خپـل ذات کې داســې غرق شي
چې پخـپـلـــه نـــه پـــوهيـــږي
چې زه څـــــه زمـــا وجـــود څـــه
بيـــا راپـــاڅيـــږي بيـــدار شـــي
پـــه ښي اړخ وي يـــا پـــه چپ اړخ
د فنـــــاو شميـــــر شروع کـــــړي
کلـــه نـــــام کلـــه مقـــــام وي
کلـــه زور کلـــه دستـــــــور وي
کلـــــه هيـــلـــــه د لا نـــــورو
د ســــــريـــــع غنــــیٰ او امـــــن
دا بـــــل اړخ يې بيـــــا بـــــدل وي
څـــه گيــــلې گوزارې ځـــان نـــه
څـــه د خپـــــلو د پـــــرديـــــو
د چـــــا لـــــږ شـــان ښه جبل شـــي
د چـــــا ډيـــــر ښـــه ناپديـــد شـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپـــل وجـــود تـــه بې ارزښـــــه**
**او غبـــا پـــه تعقـــل کـــــې**
**دا خـــو سمـــه ریشـــخنـــدي ده**
**زه بـــه څـــه وایـــم چې څـــه یـــم**
**کـــــه دې ځـــان چرته پیـــدا کـــړ**
**چـــم ګاونـــډ تـــه یې اعـــلام کړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امن

خوف او وهـــــم مې ملګـــــــري
کلـــــه يــــو سـره ګـــرزيـــږم
کلـــــه بـــــل سـره روان يـــم
يــو مـــې مـــــل د کـــار د لارې
بـــــل ملګــــرى د خوبـــونـــو
زه يې ځـــــــان تــــه مجسم کړم
يـــا ترسيم يـــا داستـــانـــونـه
يـــــا د خـــــوف وهم سيوا شي
يــــــا د وهم خـــــوف غالب شي
ښـه سـهي پـــکې مصـروف يـــم
ځـــــــان شـهيد کړم په ژوندونــــه
يـــا معـــــذور شم لـــه اعضـــاو
لـــــه يـــــوه ښـــاره تـــر بلـــه
سفر نـــــه وي يـــــو تعليـــــق وي
او چې هــــــر کلـــــه تمــام شي
د سبا تشـويش اعـــــــــــلام کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښکاره رازونه

لــــږ ښپیمـــانــــه یـــم لـــږ گیـــج یـــم
د حیـــــات پــــه طــــور طــــریق مـــې
د خپـــــل عمـــــر خـــــلاصـــــه مـــې
د خپـــــل ژونــــد ټولــــه قصــــه مــې
یــــــو کــتــــاب ټکـــــي پـــــه ټکـــــي
پــــــه همـــــــه و لســــانـــونـــو
مــــــرتب او عمــــــومــــــي کـــــــړ
ټـــــول عــــالم مې راخبـــــر کـــــــړ
هـــــر ســــړي ته مې بیــــان کــــــړ
اوس نــــه راز شتـــــه نــــه سِرونــــه
نــه مې خپــل شخصــیت شخصـــي دی
هــــــر پیغـــــور دا ستــــا پــــه ژبـــه
او طعنــــــې د نـــــــورو خلـــــکـــــو
تــــــر اکــــثــــر حــــــده رښتیـــــا دي
تــــــر اکــــثــــر حــــــده رښتیـــــا دي
مــــــا پخپـــلــــــه بیــــــان کــــړي
خـــــو یــــاویــــل چې لـــــږ تیـــــره دي
د زړگـــــــــي نـــــــه بـــــــوټ راوزي
نـــــو ښپیمانــــــه یــــم او گیــــج یــــم
چې اعــــــلام د رښتیـــــا ښــــــه وو
کــــــه حیـــــات پـــــه صمت او کذب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امید

چې بــــه زه ولې ژونـــدی یــــم
چې زمــــا بــــه څه مقصد وي

همــــه درد پــــه خوښــــه گالــــم
د نــــاخــــوالــــو او رنځــــونــــو

د دنیــــا پــــه داد ستــــد کــــې
کلــــه فــــوز کلــــه کــــوتــــاهه

خــــو مقصد مې دی همدلتــــه
بعد له مـ رگــــه خو خودکار یــــم

پیــــدا کــــړی مــــې لا نــــدی
چې زمــــا بــــه څــــه مقصد وي

نه طــــالب د تخت و امــــــــر
نه مجــــذوب د عــــرف شهرت یم

یــــو ژوندون دی او تیــــریــــږي
د مقصــــد مــــرام پــــه طمــــه

کــــه پیــــدا مې کــــړو ناجح یــــم
په فریاد به یې اعــــــــلام کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل

روابط او نسبتونه
څه زما سره راغلي
څه مې خپله انتخاب کړه
او څه زه انتخاب کړی
اوس مې دغه وظیفه ده
تل میزان په لاس ولاړ یم
نسبتونه پرې تلمه
په چا زه دروند څوک په ما دروند
په چا زه سپک څوک په ما سپک
یو حساب کتاب روان دی
کله جنګ کله خندا شي
څه ګیلې ګوزارې وشي
څه خفه شي څه خفه شم
که خفه شي که خفه شم
زه په دواړو خفه کیږم
چې میزان به مې سم نه وي
او که زه به لا اعلام یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مکرر

څــــه راځــــه چې بیـــا د ســـره در مییـــن شـــم
یـــــا د ســــــره ستـــــــا د چشـــم و لب دوران شي

پــــرې چې بیـــا دې هـــر نظـــر نظـــر اثـــر شي
چې بیــــــا ورک شمـــــه نابـــــود رانه خپل ځان شي

چـــې دې بیـــا پـــه خنـــدا خانـــدم بې دلیـــلـــه
او یــــوه اوښکـــه دې تنــــدر د اسمـــــــان شــــي

خــــو دا دود د فطرت نـــه دی، چې بـــد نـــه شـــي
زه به ځوان شــمه خو زړه به مې ځنگ ځوان شي

تـــــه بـــــه هـــم بیـــا نـــاز ادا د ځـــوانۍ وکـــــړې
خـــو یـــالیت چـــــې دې ادا زمـــــا ارمــــــان شــــــي

دا د عـــمـــر تقــاضـــا ده زړه دې چپ کـــــــــړه
سپین ږیرتـــوب کې ارمـــانـــونـــه هـــم ارمـــان شي

دومـــره بس دی چې مـــو زړونـــه اوس هم یـــو دي
دواړه یــــو دي کـــه ظـــاهر شي کـــه پنهـــان شـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د درد قد

د درد هـم قــد و قــامت لکـــه زمـا وي
پـــــه فــریاد کې هم عجبه شان چوپتیا وي

د فـــراق ســرور بیشتـــر وي لـــه وصـالـــه
تنهایی او خــاموشی کې هم غـــوغـــا وي

د ذکا معیـــار بـــلنـــد د مجـــانینـــو
خـــو ذکا کې بیـــا پنهـــانـــه لیونتیـــا وي

پـــه تیـــاره کــــې د قزح د قوس رنګــونـــه
په ګلشن کې کلـــــه شب هسې ظلمـــا وي

دا د هـــر چـــا پـــه نظـر کې داسې نه ده
چې یې ګـــوري یـــا فنـــا وي یا شیدا وي

زه یې وینم او ګمـــان چې تـــه یې وینـــې
کـــه زمـــا وي نـــو زمـــا بـــه هم ګونا وي

هله پوه شـــوم چې دې ټولو باندې پوه شـــوم
چې دا نه وي نه اعـــــــلام نه یې دنیا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تلوار

بیـــا مې وینــــه پــه تلــوار ده
بیــا رگونـــو زړونـــه غټ کــړل
منډې تړرې شوې غوغا شــــوه
چې دا ولـــې داســـې ځغـــلې
چې کوشش دا د حیــــات دی
که یې زړه راتــه نـــور تنگ دی
پــــه ســـړه سینـــه یـې زغـمـم
خــو پــه درد بانـــدې توده شي
بیـــا تقـــریــــــر نصـیحتــونـه
د طـبیـب تکــــرار خبـــرې
او زه ټیټ ســـر ورتــــه غـــوږ یم
خو تر څو به مې راټینـگ کړي
څــه فولاد خـــو نه دي زړه دی
یـــوه ورځ بـــه د دې منـــډو
جـــواب تـــل د پـــاره ورکـــړي
منـــدې تــــړې بــه راحت شي
او اعـــــلام بـــه پـــه قـرار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اضطراب

پــــــه سبـــا بيـــــگا عـــادت يم
آمـــــوختـــــه لـــــه حب نفـرت يم
درد راحــت راتـــه آشنـــــــا دي
عادي شـــوي خـــوب خنـــدا دي
عمـــــر تېـــول همدغـــــه شان وي
ښـــه خــــــراب مــــدا روان وي
خـــــو دا ځيني حـــالـتـــونـــــه
بې معنـــا غــــونـــدې دردونـه
چې نـــــه درد وي نـــــه آرام وي
نـــه ژونــــد ځغلي نـــــه تمام وي
نـــه غـــــوښتنـــه د حيـــات وي
نـه خــــــواهش د مرگ وفـات وي
نـــه ژړا تـــه زړگـــــــــی ډک وي
او خنـــــــدا کــې مې هم شک وي
نــــــه پــــه ډلـــه کې خوشالـــه
تنهـــــــايۍ کې هم بې حـــالـــه
د شوگيــر نـــــه پــــه فـــرار وي
او پـــــه خـــــوب کې بې قرار وي
خــــور و نــــوش مې لـــــه عادته
خيـــــر خبـــــر د مجبـــــوريتـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داســـــې ژونـد داســـــې زمـان وي
او ســـــــړی ورتـــــــه حيــران وي
چې بــــــــــه خلكــــــو ته دا عام وي
که خواص به د اعـــــــــــــــلام وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مثال

د صعـــــود یـــــوه زیـــنـــه ده
پـــکـــې لا تعـــداده پـاټکـي
څـــه مشکل څـــه مستــحیل دي
زه ورخـیـــــــژم او ورخـیـــــــژم
کلـــــه مـــات پاټکي تـــه رسم
پـــه یـــو چـل یې را سمبال کړم
کلــــه بیــــا سـر پـــه تـالاقـــه
را خطـــــا شـم مخ پـــه کـــوزه
زان راټینګ کــــــړم پـــه زورونو
ګــــډ او وډ سترړی ستــومـــانـه
بیــا آغـــاز کـــړم مخ پـــه بـره
یـــو سفـــر نـــا منـــظـــمـــه
کلـــــه منـــډه د غــــــزال وي
کلـــــه ګـــوډ او شل مـــزل وي
خـــــو روان یمــــه روان یـــــم
د صعـــــود پـــــه آه و چـاه کې
دا صعــــــود پکـــې لا څـه دي
نیکمـــــــرغي بـــه څـــه تـه وایي
دا پـــه دې زړه چــــــاودون ارزي
کـــــه زه هســــې ور روان یـــــم
خـــــو کـــه نه ځم نو څه وکـــړم
یـــو همـــدغـــه لار مې زده ده
یـــو همـــدا مې مـــدام کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په بله لاره پوه شم
گوندې ژوند به مې راحت شي
او که ما غوندې نور هم وي
نو اعلام به يې مثال شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عشق

ستـــا جمـــال هسې حـــائر هســـې خطـــا کـــــړم
د حســـينــــو پـــــه تضـــــاد يـــې مبتـــــلا کـــــړم

د هغـــــې چشـــــم و نظـــــر هســـــې اثـــــر وو
لـــــه نظــــره يـــې د لـــــرې نـــابينـــا کـــــړم

عشـــق هغـــه وو چې خـــالـــي وو لـــه طلبـــه
پـــه طلب مـــې عشـــق خـــالـــي د محتـــوا کـــــړم

چې پـــــه خيـــال کې مې تصـــويـــر مجسم کـــړی
کـــه تـــه نـــه يې نـــو غلط کـــوم گـــونا کـــــړم

دا وسعت زمـــا د فـــکـــــر کـــــه مـــــزاج دی
پـــه تعـــــريف او ستـــايش دې لا زيبـــــا کـــــړم

زه بـــه وگـــورم چې خـــرنگـــه دې هيـــر کـــــړم
چې دې يـــاد کـــړمه نو هير به دې هم بيا کـــــړم

ستـــا خنـــدا کې زمـــا ټولـــه خنـــدا ورکـــــه
پـــه يـــوه اوښکـــه دې ورک زه راپيـــدا کـــــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خــــوبـونــو قــرارداد ستـــا لـــه عيـــونـــو**
**زه پنهــــــان خـــو شـــوګيـــرو رســـوا رســوا کــــــړم**

**عشـــق مې زيات شي چې مې عشـــق کله په تا شي**
**د اعـــــــــلام به څـــه وي نور چې يې سيـــوا کـــــــړم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چل

چې پـــــه تـــــا کې به څه چل وي
تـــــه بـــــه ولــــې دل نشيـــــن يـې
زه پـــــه څــــه درتـــــه مايــــــل يـــــم
ځـان مـې پـاک دربـانـدې ورک کړ
ستـــــا د يـــــو نظـــــر د پـــــاره
حيـــــات پـــــاتـــې روزګار پـــــاتـــې
ستـــــا فـــــراق لـــــکــــه د تـــــورې
زړګـــې نيـــم کانـــــدې پـــه نيمـــه
ستـــــا پـــــه يـــو شيـــبـــه خـبـــرو
کـــــې ســـــازونـــــه د دنـــيـــــا وي
ستـــــا پـــــه نيمـــه خولـــه خندا کې
حـــــديقـــــې او بـــوستـــــانـــــونـــــه
ستـــــا د وصـــــل پـــه لمحـــــه کې
هـــــزارهـــــا کـــــاونه ورک شـــــــي
چـــــې پـــه تـــا کې بـــه څـــه چل وي
چـــې دې ليـــکـــم چـــې دې لـــولـــم
چـــې رويـــا پـــــه تـــــا ابـــــاد دي
او پـــــه ويښـــــه تخيـــــيـــل کـــــې
راتـــــه ښـــکتـــــه پـــورتـــه کيـــږي
دا بـــــه کـــلـــــه پـــــورې دا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا دی لاړمـــــــــه بـــــوړا شـــــــوم**

**خــــــو اوس هـــم چې تـــه رایـاد شي**

**د اعـــــــلام ځـــــواني آغـــــاز شـــــي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیونتوب

هسې ځان سره لګیا
په خبرو په کیسو
د الفت د خیال خوښې
د هجرانه ترس و ډار
په خپل ذهن کې تصویر
کله ښه کله خراب
کله ځان سره خندا
کله ځان له ځانه ترس
خلک کل زما تابع
زما خوښه زما غږ
چرته زه شم مقصر
چرته خلک بې وفا
خپل تقصیر په خپل ګمان
پاکوم او سموم
خو د نورو د جفا
په خپل ذهن فیصله
ټول غلط وي زه صحیح
کله نه یم ملامت
خو پوهیږمه په ځان
چې ژوند اصل داسې نه
بلکه داسې لکه خلک
ګیني یا به تل نفرت
یا لږ نور هم لیونتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپین کاغذ

خالیگاه د خپل احساس ډکوی نه شم
په الفاظو ډکوم سپین کاغذونه

د خپل ژوند د کلماتو سره لوبې
کله نظم کله نثر او خیالونه

په اعدادو زما عمر حساب نه دی
په شباب صغر کې ورک رانه کلونه

چې دې څه راته خودلي نیم غلط وو
دین مې مینه دین‌مې‌ژونددین مې‌گلونه

ته چې وایې چې‌خوشال یم نو خوشال یم
چې په ما دي درته کم ښکاري دردونه

د فراق هره لمحه مې یاد کې پاتې
وصال ورک لکه چې ورک مې دي یادونه

په تمامه مې اعلام درته خپل ځان کړ
دغه زه او دغه ته دا حاسبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله کیږي

کلـــه دغـه شـانتـې چـل رابـانـدې کیـــږي

چـې مـې بـــدي شې هم تـــه هم ستـــا یـادونه
بـــې معنـــا شـــي د ژونـد ښـــه او بـد اړخـــونه
یـــو نفـــرت د خپـل وجـــود د خپـل پهـــلو نـه

کلـــه دغـه شـانتـې چـل رابـانـدې کیـــږي

ارمـــانـــونـــه خـــواهشـــونـــه مــــې تمـــام شـــي
دود دستــــور رســـم و رواج راتـــه نـــاکام شـــي
د ســـوچـــونـــو او فکـــرونــــو ازدحـــام شـــي

کـلـه دغـه شـــانـتـې چـل رابـانـدې کـیـږي

زړه مــــې تنـــګ شـــــي ساه مې تنګه بې دلیله
یـــو وحشت مې شـــي تـــرخنـــګه بې دلیـــلـــه
عیـــن بیـــزار لـه هـــره رنګـــه بـې دلیـــلـــه

کلـــه دغـه شـانتـې چـل رابـانـدې کیـــږي

میــــ نه ورکه شي عشـــق ورک احســـاس فنا شي
یـــو عـــادي غـــوندي بشر راتـــه اشنـــا شــــــي
نـــــور خـــوبـــونـــه او خیـــالـــونـــه بې معنا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلــــه دغــه شــانتــې چــل رابــانــدې کیـــږي

پـــــه دوا او پـــــه دعــــا مـــــې گــــوزاره وي
بس خـــوبـــونـــه د دردو يـــوه چـــــاره وي
او اعــــلام د دغــــــه حـــــال پــه نظــاره وي
کلــــه دغــه شــانتــې چــل رابــانــدې کیـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو

پـــه یـــو ځـــو اصطلاحـــاتـــو په لفظونو
نـــه غـــربي یم نـــه تـــابع د خلیجـــونـــو

استعمـــــــار مـــې سیـــــاسي، ادبي نه دی
خپـــــل لســـان او خپل ادب مې د کلـــونو

کـــــه یو ځـــــو کلیمې ستا پکې ژوندۍ دي
نـــو شاکـــر اوســـه زمـــــونږه د قـــامـــونو

منطقه ده جامعـــــه ده زیـ ســ ـت روزګار دی
دا بـــــه ځـــــه شي پـــــه نفـــاق د لسانونو

زمـــــا هـــــره خـــــوا لهجـــــه د تاثیـر لاندې
اوس هم ښه یمـــــــه چې شتــــــه یم له کلونو

کـــــه پـــــه خـــوښـــــه او اثر د مجـــــــاورو
هـــم بـــــه زه وی هـــــم مې ژبه په نومونـــو

دا چې ځـه راسره شـتـه همـدا مې بس ده
د اعـــــــلام يې ځـــــه پـــــروا په پیغـــورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې یاري

زړه مې تنګ دی خــــلق مې تنګ دی او تـــــه ستره
نــــه ځــــاییـــــږي پکـــــې ستـــــا د زړه خبـــــره

زه د ځـــانـــه پـــه تکلــیف یمـــه پـــه تنګ یــم
لا د پــــاسه پـــــرې ستـــا مینــــه مهــــاجــــره

غـــم د یـــار غـــم د روزګار غـــم د څـــو تــکــــو
اوږده لاره او زه ستــــــړی لـــــــه ســــفـــره

ته پوهیږې چې زړه مـــات کړې بیـــا یې روغ کړې
زه پـــه تیخـتـــه مـــوفـــق ستـــا لـــه هنـــره

دا خـــنـــــدا او دا مســــــکا او دا خــــبـــــرې
یـــو نقـــاب زمـــا پـــه مـــخ دی د بـــهـــره

یـو تـه نـه یـې چـې دې زه پـه دا روزګار کــــړم
د یـــــارانو سعـــــي زیـــــار پـــــه څـــو نفـــره

ګـــریـــــزان د شـــهـــــر و کلـــــي د فســـــاده
ګـــریــــــزان یـم پـــه همدوي کې لـــه دې شـــره

کـــه زمـــا پـــه خوښـــه کیږي نو اعــــــلام کړه
بـــې یـــاري او بـــې دوستـــي لـــه هـــره دره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قرار

پــــه دوا کـــه پـــه دعـــا شي
که پـــه دم درود د چـــا شي
کـــه دا زړه مې لـــــــړ قرار شي
د دنیـــا نـــه او دا ستـــا نـــه
دنیـــا غـــم دی پـــه دنیا کې
پــه دردونـــو کــــې دردونـــه
تــه مــرهم يې خـــو درد ښه دی
آمــوختـــه لـــه خپلـــه ژونـده
پـــه فــراق دومــره عادت شوم
چې وصـــال راتـــه مشـکل شو
زړه مــې تـــور ستـــا د خبـــرو
د جنـــګــــونــــو او لانجـــو نـــه
خـــو چې نـــه يې هم خفــه يـم
ستــا پــه جنګ پسې ځــــوريـږم
درد ځـــه هسې رابلــــد کـــړم
چــې راحت کــې ناراحت يــم
او خـــــواري او کــــوششـــونـه
کـــه دا زړه مې لـــړ قـــرار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کال

کـــال کلـــونـــــه دي تیـــریـــږي
او زه ورک لـــــــه خپـــــل ادراکـــه
کلـــــه وایمـــــه چـــې ښـــه شـــو
یـــــــو کال عمـــر مـــې راکـــم شـــو
د دنـــــیـــــا د داد ستـــــــــــــده
د اشنـــــــا د تنـــــــفـــــــره
لکـــــه مـــا تـــه چې معلـــــــوم وي
چې تـــر کـــومې بـــه ژونـــدی یم

خـــــو دا بـــــل طرف یې هـــــم شته
د امـــیـــــــــد د ازروګانـــــــــــو
چې کـــــه بل کال لـــــــږ راحت شي
چې کـــــه بـــــل کال بریـــــالي شـــو
چې کـــــــــه دې کال کـــې د مینې
او الفت ګلـــــونـــــه ډیـــــــر شـــي

زمـــــا درک زمـــــا ادراکـــــــــــه
ستـــا دا دواړه درکـــه ســــــــم دي
دنیـــــــــا ډار دی او امیـــــد دی
کلـــــه دا شـــــي کلـــــــه دا شي
پـه دې زیســـت د تور او ســپین کې
څـــه اعـــــــلام ملامت نـــــه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مطر

دا قطـــرې د مطـــر و بـــرف چې
پـــه نـــازونـــو اداګـــانـــــو
ښـــه پـــه شمـــار باندې شمیرلې
راوریــــــــــږي راوریــــــــــږي
پـــه چـــا ښـــه دی پـــه چا بد دی
څوک مفلـــس کړي څوک زرخیزه
څـــه خفـــه وي څـــه خوشالـــه
څـــوک دعـــا د وریـــدو کـــــړي
څوک د شین اسمـــان د ستـــورو
هـــر غوښتـــل تـــر خپل هدفـــه
او دعـــــــا د خپـــــلې ګټـــې
عجیبـــــه غـــــوندې انصـــاف دی
د رب کار او حـــکـــمتـــونـــه
اختـــــــلاف د احتیــــاجـــاتـو
او عطـــــــا د مختــــلــــفـــو
داسـې پـــــــاک داسـې روښـانه
لکـــه څـــاڅکـــي د دې مطــــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## باغکه

زه د کیــــف او د ســــرور عـــالم کې ورکه
تــه غمــونــه د دنیــا راتــه قطار کړې
مــا تــه تــه او ستــا دنیــا لکــه باغکه
معمولي ده که وجود دې رانــــه جار کړې

نــه پــه ځــان نه په جهان یې نه په ما یې
او کیسې مطـــالبــــې دې پــه ســـوونو
یـــو مجهـــول یې کــه یو سِر یو معما یې
خــو دعــوې دې د پــــرانستــو کتـابونو

زه د خپــلــې دنیــا بــې نیــازه ملــکه
مستحیلــــه ده چې دې دنیـــا ته لار کړې
مــا تــه تــه او ستــا دنیــا لکــه باغکه
معمولي ده که وجود دې رانــــه جار کړې

ستـــا د فکــــر انتهـــا زمـــا آغــاز دی
کــه عـــاقـــل یې ځان لږ ټیټ مقایسه کړه
ستـــا غضب قهــــــر غصه لا زما نـــاز دی
لـــږ رمزونـــه اشـــارې دې آهستــه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــا ښـــه بـــده خبـــره مبـــارکـــه
تـه بـه فکر حســابي کړې چې گفتـار کړې
مـــا تـــه تـــه او ستـــا دنیـــا لکـــه باغکه
معمولي ده که وجود دې رانـــــه جار کړې

دا زمـــا زیبـــایي حســـن ســـرمـایـه ده
تـا نه ښـه عـالمان ډېر دي خوا او شـــا کې
زمـــا یو نظـــر لیـــدل لویـــه کیسه ده
ستـــا خبـــرې نصایح پـــاس په هوا کې

تـــه جـــامـــد زمـــا وفـــا متـحـــرکـــه
هســـې نـــه چـــې اعـــلام هـــسې گرفتار دی
مـــا تـــه تـــه او ستـــا دنیـــا لـــکـــه باغکـــه
معمولي ده که وجود دې رانـــــه جار کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غم ښادي

زه خـــــوشحـــــالـــــه کـه خفه یم
خــــــــوشحالي خفګان نو څه وي
کـــه پـــــه مـــــا وي که په بل چا
زه یـــې ولـــې حـــس کـــــومه
خــو په درد غم دې خــــــــوګیږم
په خنـــــدا باندې دې خانـــــدم
دا احســـاس مـــا کې د څــه دی
د دنیـــــا قـــانون روښـــــــانه
خپــــل پـــردي پکې معلـــــومه
نـــــو زه ولې داسې نـــــه یـــم
ورک پــــه خپلـــــو پـه پردو کې
او چې ګـــــورم نـــه پوهیـــــږم
چې خفـــــه یم که خوشحـــــــاله
خــــو پرهیږمـــــه همـــــدومـــره
چې دا غـــــــــم او دا فرحت مې
داسې ګیــــرچـــاپیره ګـــــرځي
د هـــــر چـــــا پکـــې نوبت دی
د هـــــــر چـــــــا پکې حصه ده
او پــــه هـــــر چـــــا موقت دی
نـــــه دوستي نــــه یـــارانه کړي
نـــه کینــــــه او دشمني کـــــړي
نــــــو چې درد خوښي بې دینــه
بـــــې مــــذهبه بې لســـــانـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نـــــو دا زه او تـــــه لا څوک یــو**
**چــې یو بـــل سـره حــس نــه کـړو**
**نـــو زه ځکــــه نـــه پوهیـــــږم**
**چې خـــوشحالـــــه که خفه یــم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آخر

کـــه په قـــدر د اشنـــا مې ســـر پايين شي
يـــانصيب کـــــه مې نصيب دغـــه آيين شي

هـــر گفتـــار دې آيينــــه زمـــا کـــردار ته
پــــه نظــــــر دې دا ساده ژوندون رنگين شي

که فـــدا دې شم لــــه وجه و عيــن و خشم
گوندې شتــه جمال دې لا پسې حســين شي

د وفـــا جمـــال حيـــا تقـــوی مثـــال يې
چې دا عشق بــــه د دنيا که بـــــه د دين شي

دا اثـــر پــــه مـــا طاري کـــه په ټـــول دهـر
يــــو نظـــر دې د اقوالو جــــانشين شـــــي

چـــې يې پريږدې دنيـــا پريږدي لــــه جنـونه
چې ور وگــــورې غريب بـــــــالانشيـــن شي

د فـــراق ذکــــر مشکل دی لـــــه فــراقــه
په وصـال دې زنگ وهــــــلی زړه زرين شي

د اعــــــــلام يو څه ساعت بې ستا د خياله
يا خــــــو نــــه شي او که شي نو آخرين شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فکر

گوره طول د دې سـجدو نه
د رکـــوع او قیـــامـــــو نه
په تکـــــــــرار نوم اخستو نه
نوش و خــــــور نه بندیدو نه

بې لـــه فهمـــه د وییلـــو
بې لـــه درکـــه نقلـــولـو
بې لـــه سرپـــا قبلـــولو
او د ځـــان د غـــولــولـو

د دې ټـــولـــو نــه په ګـډه
د چا نــــه مړه کول ښــه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حلف

و رب الکعبــــه کــــه بـــاور دې نــــه شي
چې مې پــــــه ځـــــــان شي ا په تا لوروم

دا مشـــــــاکل د حیات گـــــــرځي چرخي
چې جــــــــوړوم یې د هــــــــر چا جوړوم

دا استــــدعـــا دا عبــــادات بنــــدگي
لکـــــه چې زه پــــــرې تعالیٰ غــــولـــوم

زمـــــا سکـــوت د غبـــا نـــــه دی گوره
خپـــــــل احترام ستــــا پــــــه غبـــا بدلوم

موسفیدی تــــــه که پیـــــــري وایــــــې نو
زه خپل ځــــــو تـــــاره خامخا بدلــــــوم

کلــــــه نــــا کلــــــه تــــــرنم طاري شي
سمـــــې خبـــرې پـــــه غنــــــا اړوم

یـــــــــــو عجب کیف او خاموشي وي پکې
د اعــــــــــــــــلام شپه چې تر سبا تیروم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه خنـــدا او محبت ظلـــم پـــه عـــامـو
مظلـــــوم نــه پـــه ځان، آگاه نه په مرامـو

وصال هم پـه رواتب رسوم اجـــــرت شـو
یــــــوه نـــوې جـــامعـــه د عاشق نامـو

زیرِ نامِ دیـــن مـــذهب تجـــارتـــونـــه
اشتـــریٰ پکې د شیـــخـــــو د امـــامـــو

گِروي د نشستـــــونـــــو مجـــالســــــو
مغسلـــه د نـــــاروا و د حــــــرامـــــــو

د قـــــدرت تشنه لبـــان عســـا پـــه لاسـو
درز او غپ پـــه قبیلـــو او پـــه اقـــوامو

دا مې جهـل کـه خلوص دی او کـه دواړه
دا سکـــوت پـــه دې سبابو په دشنـــــامو

کــــه سمیـــــړي نـــو په عقل په منطق ده
نـه پـــه زوتـــو صلاتـــونـــو او صیـــامـــو

چې اعـــــــــلام پکې خطا شو نو قوي دي
بـــرنـــامې د خـــوارجـــو د غـــلامـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نشانه

زما عقل ——— ستا خبرې
لکه مونږه ——— لرې لرې
ته څه وايې ——— چې زه به کړم
ما ته خپل کړې ——— زه دې څه کړم
ته ګيلې کړې ——— زه عذرونه
خو په حقه ——— دواړه زړونه
ته بل څه ته ——— مينه وايې
د اظهار په ——— تمنا يې
زه بيا بل شان ——— مينه ګورم
بس احساس په ——— ميين پلورم
يا خو ته حق ——— ستا وينا حق
ستا د مينې ——— راه و چا حق
يا زما د ——— عقل لاره
برابره ——— ما د پاره
خو چې څنګه ——— به دا حل شي
نظرونه ——— مو څنګ مل شي
ځه راځه نو ——— داسې به يو
سره روګدي ——— په کړه وړه يو
دا جنګونه ——— جنجالونه
مو د مينې ——— نشانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لاينجل

زما ذهـــن د خيـــالـــونـــو يـــوه دښــــــته
چې په هر طرف يې شــين ســما ښــكـاريږي

كه د خپـــــلې محـــــدودې يـــــوه كـــوټه ده
چې زمــــا هــم كــلــــه زړه پكې تــنـــگيـــږي

انتــــها د اوج پـــــه بـــــره پـــــه صعـود كې
چې لـــحظه كې اسمانـــــونـــو تــــه رسيږي

كه شــــروع د خــــو فكــــرونــــو كـې نـــښتي
چې يې خپلـــــه د خپـــل نفــــسه پيدا كـيږي

د حيــــات ممـــــات رازونــــه دلـــيـلـــونــه
پكې گـــــرځي پـــكې اوسـي او غــــرېـــــږي

كـــــه گــيله د يـــــار د يــــو كـــاږه نــظـــــره
چـــــې دنـيــــــا او ما فــــيها ســره ســـميـــږي

تــصــــور د قـــدرتــــونــــو طــاقـــتــــونـــــو
چې پـــــرې وس د مخـــــلـــــوقـــاتو نه رسيـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کـــه ضـعف لـــکه دا زه او زمـــا زړه چـــې
د غــمــونـــو د دردونــــو نــــه ډاریـــږي

څـــه عــجبــه معــمـــا ده لا یــنــحلـــــه
چې پـــــه ذهن مې خپـل ذهن نه رسیـــږي

دا عـــادي ده کـــه یوازې په اعــــــــلام ده
چې پـــه دې جنون خوښیږي او مستیــــــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## برکت

نه سرعت د ساعت ډېر دی
نه شپې ورځې لنډې شوي
نه جذبه د عشق مړه شوې
نه دردونه کم او زيات دي
نه رانه ستوري تياره دي
نه بنفش رنګونه پريښي
دا دنيا هغه دنيا ده
دا ديار هغه ديار دی
نو دا منډې ترړې څه دي
دا ژوند ولې داسې تښتي
دا ياران ولې خفه دي
دا دنيا ولې بې خونده
دا ګونا د دنيا نه ده
زه لږ ډېر وربانديې پوه شوم
چې په دې څومره پوهيږم
دا به هومره تيزه ځغلي
زما وخت به داسې وخوري
چې خبريږم نو تمام وي
دا د عمر برکت دی
بس همدغومره راپاتې
د عمرونو لوی خالق دي
زما هم برکتي کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جمال

مثـــلِ ورد یې مثـــلِ قـــلب یې مثـــلِ جـــــان
د جمـــــال حـــــدود تمـــام ستـــا پـــه اعیان

خــــوي خصلت عـــــرف و عادت دې بې بدیله
قـــد قـــامت کلام و خلـــــق دې د پـــریــــــان

طــــــلاوت دې لکـــــــه شمس آشکار لـــه دوره
د قـــــرب طمـــــه کې فنـــا فـــــلان فـــــلان

حـــــــلاوت دې لـــــه کلامـــه پـــاک څرګند دی
مشتهــــــي ورتـــــه د هــــــــر بشــــــــر آذان

لامقصـــــــوده دې شبـــــــاب تلـــــف تلـــــف کړم
مــــــا یشــــا حسن تخلــــــیق د رب سبحــــان

ظـــرفیت دې له جمیــــلـــــــو بــــــالا تـــــره
نـــــه غـــــرور نـــــه تکبـــــر شـــایـــان شــــــان

ده همـــــه و نظر تـــــا تـــــه او ستـــا مـــا تـــــه
نـــــاز پرور و نـــــاز بـــــــردار د بې کســــــان

تـــــــه نـــــــادر یې چشم دیدو د اعــــــلام کې
دا بـــــــاقـــــــي خـــــــلایق همه کـــــما کـــــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ورک

د ژونـــــدون تپ و تـــــلاش کـــې
یـــــو احساس وو لــــږ مبهمـــــه
مـــــا پـــــرې نـــوم د مینې کیښود
او پـــــه منـــــډه ورپسې شـــــوم
قسمـــــا قســـــم خــــلایق مـــې
د رڼـــــو ستـــــرگـــو نـــــه تیر شو
څـــــوک مې خپلـــه مسترد کړل
چـــــا زه رد کړم چې بدرنگ یې
پـــــه همدغـــــه داد ستـــــد کـــې
مې تـــــه ولیـــــدې شیـــــدا شوم
دا بـــــاقي دنیـــــا مې پریښـــــوه
او یـــــو ته مې خپل منـــزل کړې
د وصـــــال پـــــه آرزو کـــــې
عمـــــر تیـــــر شـــــو ځواني تیره
پـــه دردونـــو تکلـــیفـــونـــــو
مـــې ځـــان ورســـاوه تـــا تـــه
تـــه زمـــا شـــوې او زه ستا شوم
لـــــږ راحت شوم لـــــږ دمه شوم
خـــــو اخـــــره کې مې پـــام شو
چې هغـــــــه تلاش اوس هم شته
لا مې حس ورک شـــوی نـــــه دی
لا منـــــزل ته مـــــزل ډیر دی
کـــــه تـــــه نـــــه وې نو بیا څه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زمــا منــزل بــه کــوم وي
بیــا مبهــم شــوم لادرکــه
بیــا مې فکــر گــډ او وډ شو
خــو اوس هغــه شیمــه نشته
نــو مــزل مې اکــتفا شــوه
او منــزل نــه منصرف شــوم
د دې ژونــد دې خــالیگاه ته
څوک احســاس وایي څوک حرَص
خو اعــــلام چې ورته گوري
نــو همدغــه لیــونتــوب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اهميت

افتـــــرض دنيـــا يـــو جسم قلب يـــې دين وي
زه قطـــــــره د دم روان پـــــه شيـــريـــانـونـو

نـــــه پـــه مــا بـــانـــدې ابـــاده نـــه بـــرباده
مكـــــــرر مبهـــم مې كار پـــــه كال كلـــونـــو

يـــــو سفر دی قلب تـــه ځـــم بيـــــرته راوځم
بيـــــا ورځمــــه بيـــا راځـــم پـــه كرتونو

هسې ځــــان راتـــــه عقيم بې كاره ښـــــكاري
مـــــانده شوی خســــته شوی لـــــه كارونـــــو

بـــې اهميـــتـــه بـــې ارزشـــه او بـــې ســـعره
گــــــرفتـــار يـــم د حيـــات پـــه دورانـــونـــو

كلـــــه تيــــز كلـــه بطي شـــم بې اخـــتيـــاره
كاش چـــې زه هم لـــــږ مختار وی د مــــــــزلونو

جســم زوږ شــو قلــب ضـعيف شــو چې خبر شــوم
چـــې زه هـــم گـــــوره مهم يـــــم تـــر حـدونـــو

كــــــه زه وچ شـــوم په شـــيريان كې كــــــه په زړه كې
هــــر يــــو څاڅکی بـــه محتاج كړم پـــه سوالونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تــــر کـــــومې یـــا روان یـــا لـــــرې نـــــه شم
مستحیــــــل بــــــه شـــــي حیــــات د بشــــــرونــــــو

کــــــه قطـــــره یـــــم خـــــو مهم یمــــه حیات تــــه
هـــم سبب د مـــــوت حیـــــات هـــــم د دردونــــــــو

رابطــــــه د جســــــم و قلـــب پـــــه مــــــا ولاړه
نـــــو اعـــــــــلام مضمون د دغــــــه مضمونـونــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیم رښتیا

شعري مجموعه

اکمل اعلام

۱۴۰۰

# Neem Rekhtya

## Pashto Poetry

ISBN 978-9936-1-0628-4

Akmal Elam

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**